**۷/ ربیع الأول /۱۴۴۸ هـ، ق مطابق ۳۰ / اسد/۱۴۰۵هـ، ش**

# په اسلام کې د معیوبینو، معذورینو او ضعیفانو مقام او مرتبه،او له هغوی سره په ورځني ژوند کې مرسته او همکاري

بِسمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیمِ

الحمد لله حمدًا کثیرًا طیبًا مبارکًا فیه کما یحب ربنا ویرضی، والصلاة والسلام علی الحبیب المصطفی محمد وعلی آله وصحبه أجمعین.وبعد : قال الله سبحانه وتعالی: :( يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا ۚ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ).(۱)

**درنو مسلمانانو!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

نن زموږ د بحث موضوع د هغو خلکو په اړه ده چې د ژوند په سفر کې د کومې جسمي نیمګړتیا، ناروغۍ، کمزورۍ، زړښت، ړندوالي، معلولیت یا بل عذر له امله د نورو خلکو مرستې او همکارۍ ته اړتیا لري.

الله جل جلاله په جسم سالم خلکو باندې د سالمیت نعمت کړی دی او معیوبین ، معذورین او ضعیفان یې دبدن د غړو په نه شتون او یا شل والي باندې په ازمیښت کې اچولي دي او که چیرې په خپل معیوب والي او معذور والي صبر وکړي ، نو الله تعالی ورته لوی اجرونه مقرر کړي دي. د اسلام په مبارک دین کې د انسان فضیلت او برتري د هغه په بدن، قوت، شتمنی او ظاهري ښکلا پورې نه دی تړلی، بلکې په اسلام کې برتري په تقوا پورې تړلې ده .له همدې امله اسلام معیوبینو ته ځانګړی عزت، حقوق او مقام ورکړی او ټولنه یې د هغوی د احترام، پالنې او مرستې مکلفه کړې ده.

الله جل جلاله فرمايي:( يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا ۚ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ).(۲)

ترجمه: ای خلقو بېشکه مو پیدا کړي يئ تاسې( ټول اصلاً) له یوه سړي چې (آدم) او له یوې ښځې چې (حوا) ده او ګرځولي يئ مونږ تاسې څانګې او قبیلې قبیلې لپاره د دې چې وپیژنئ یو له بل سره بېشکه چې ډېر مکرم او معزز له تاسې څخه په نزد د الله ډېر متقي ادب لرونکی ستاسې دی

۱ - الحجرات:( ۱۳)

۲ - الحجرات:( ۱۳)

دا آیت څرګندوي چې معیوب او روغ، شتمن او غریب، ټول د الله تعالی په وړاندې برابر دي؛ یوازې تقوا د فضیلت معیار دی.

داسلام څخه مخکې د معیوبینو او معذورینو سره سخت ظلم کیده او غیر انساني سلوک ورسره کیدلو .

په ځینو ټولنو کې به خلکو له معیوبینو او معذورینو څخه کرکه او نفرت کولو او حتی په ځینو ټولنو کې به خلکو معیوبین او معذورین عبادتخانو ته نه پرېښودل. په یوناني فلسفه کې افلاطون به ویل چې معیوبین او معذورین دولت کمزوری کوي او دا خلک باید له ټولنې څخه لرې کړل شي.

په رومي ټولنه کې معیوبینو او معذورینو ته په ډېره سپکه سترګه ګتل کیدل او هغوی به ویل چې معیوبین او معذورین په ټولنه باندې بار خلک دي او هغوی په مختلفو حیلو او لارو له منځه وړل. خو کله چې د اسلام سپیڅلي دین څرک ووهلو ، نو د معیوبینو ، معذورینو او ضعیفانو ته یې لوړ مقام ورکړ او پرته له کوم تمییز څخه هغوی ته په درنښت قائل شو او لویه مرتبه یې ورلره ورکړه. او داسلام مبارک دین دا اصل وټاکلو چې ټول انسانان د ږومنزې د ښاغونو په څېر دي او دالله تعالی په نزد هغه سړی ډېر عزتمند دی چې ډېر تقوا دار وي. (إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ).(٣)

ترجمه: بېشکه ډېر مکرم او معزز له تاسې څخه په نزد د الله ډېر متقي ادب لرونکی ستاسې دی

او نبي علیه السلام وفرمایل:« إِنَّ اللَّهَ لاَ يَنْظُرُ إِلَى صُوَرِكُمْ وَأَمْوَالِكُمْ وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ ».(٤)

ژباړه: بیشکه الله تعالی نه ګوري ستاسې صورتونو ته او نه ستاسې مالونو ته، بلکې ګوري ستاسې زړونو ته او ستاسې اعمالو ته.

داسلام په مبارک دین کې د معیوبینو، معذورینو او ضعیفانو دومره لویه مرتبه او مقام دی چې کله په قیامت کې د روغ خلک دغه مرتبې او ددوی مقامویني ، نو روغ خلک به ارمان وکړي چې زه دې هم معیوب او معذور وای، خو چې دغه نوازش او مرتبه مې په برخه شوی وای. په یو روایت کې راځي. رسول الله صلی الله علیه وسلم ومافرمایل:(أهل العافية في الدنيا يودون لو أن لحومهم قرضت بالمقاريض في الدنيا).(٥)

ژباړه: په دنیا کې د عافیت خاوندان به خوښه ګڼي چې کاشکې ددوی غوښې په قیچي ګانو قیچي شوی وای په دنیا کې (ترڅو په آخرت یې لوړې مرتبې په نصیب شوی وای)

په اسلام کې د معیوبینو، معذورینو او د مرض د خاوندانو دومره مرتبه کافي ده، چې د مجاهدینو سره په اجر کې شریک دي ، ولو که په جهاد کې یې عملاً برخه نه وي اخیستي په دې شرط چې په نیتونو کې یې اخلاص موجود وي. الله جل جلاله فرمایلي دي:( لا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ وَالْمُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَاهِدِينَ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقَاعِدِينَ دَرَجَةً وَكُلاً وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَى وَفَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَاهِدِينَ عَلَى الْقَاعِدِينَ أَجْراً عَظِيماً).(٦)

ترجمه: نه دي برابر (الله ته) کیناستونکي (په کور کې) له مؤمنانو نه (له جهاده) بې له خاوندانو د عذر او جهاد کوونکي په لاره د الله کې (د دین د ترقی لپاره) په مالونو خپلو سره او ځانونو خپلو سره فضیلت ورکړی دی الله جهاد کوونکو ته په (لګلولو د) مالونو خپلو سره او (په جارولو د) ځانونو خپلو سره پر کیناســتونکو باندې (له معذرته) په درجه کې او له ټولو سره (که مجاهد وي که معذور ناست) وعده کړې ده الله د ښې جزا (جنت) او فضیلت ور کړی دی الله جهاد کوونکو ته پر کیناستونکو (له معذرته) په اجر عظیم ډېر لوی سره .

---

٣ - الحجرات:(١٣)

٤ - صحيح مسلم (٨/ ١١)

٥ - التوضيح لشرح الجامع الصحيح (٢٧/ ٢٨٤)

٦ -النساء:(٩٥)

په حديث شريف کې راځي.عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجَعَ مِنْ غَزْوَةِ تَبُوكَ فَدَنَا مِنَ المَدِينَةِ، فَقَالَ: «إِنَّ بِالْمَدِينَةِ أَقْوَامًا، مَا سِرْتُمْ مَسِيرًا، وَلاَ قَطَعْتُمْ وَادِيًا إِلَّا كَانُوا مَعَكُمْ»، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَهُمْ بِالْمَدِينَةِ؟ قَالَ: «وَهُمْ بِالْمَدِينَةِ، حَبَسَهُمُ العُذْرُ».(۷)

ژباړه:د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې بيشکه کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د غزوه تبوک څخه راوګرځيده او مديني منورې ته نږدې شو ، نو داسې يې وفرمايل: بيشکه په مدينه منوره کې ځيني خلک داسې دي چې تاسې کومه لار نه طی کړی او نه مو کومه دره وهلې ده ، مګر هغوی درسره په اجر کې شريک دي. صحابه کرامو وويل: ای دالله رسوله! دوی له مونږ سره په اجر کې شريک دي حال داچې دوی په مدينه منوره کې ؤ؟ نبي عليه السلام وفرمايل: هو! دوی په مدينه منوره کې ؤ ، خو عذرونو جهاد ته دتللو څخه منع کړي ؤ.

يعنې څوک په سترګو ړانده ؤ، څوک په پښو شل او معذوره ؤ او څوک مريضان ؤ او جهاد ته تللو زياته آرزو يې لرله.

هرکله چې الله تعالی د معيوبينو او معذورينو او ضعيفانو د مرتبې او مقام په اړه خاص آيتونه نازل کړل او دا يې مسلمانانو ته وښوده چې الله تعالی غواړي ددغو خلکو مقام او حيثيت ته ځانګړې توجه وشي.الله جل جلاله دحضرت عبدالله بن أم مکتوم رضي الله عنه، چې په سترګو معذور صحابي ؤ په هکله هغه وخت آيتونه نازل کړل چې کله هغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم مجلس ته ورغلی او د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه يې د علم په باره کې پوښتنه وکړه په داسې حال کې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د قريشو د بعضې کسانو سره ناست ؤ او د هغوی سره يې په دې اميد خبرې کولی چې ګوندې ايمان به راوړي او خپلې خبرې يې قطع نکړلې او حضرت عبدالله بن ام مکتوم رضي الله عنه ته يې ځواب ورنکړ ، نو الله تعالی خپل حبيب صلی الله عليه وسلم ته داسې وفرمايل:(عَبَسَ وَتَوَلَّى * أَنْ جَاءَهُ الْأَعْمَى * وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّهُ يَزَّكَّى * أَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنْفَعَهُ الذِّكْرَى).(۸)

ترجمه: وچولی (تندی) تريو کړ (محمد) او مخ يې وګرځاوه د دې لامله چې راغی ده ته ړوند. او څه شي پوه کړی يې ته (ای محمده له احواله د دې ړانده) ښايي چې هغه (ړوند) به پاک شي( په تعليم د تا له معاصيو له بدو اخلاقو). يا به ذکر پند واخلي پس نفع به ورسوي ده ته ذکر پند (د تا).

چې په پورتني آيت کې د معذورينو او معيوبينو مرتبه او فضيلت ذکر دی.

ددې آيتونو د نزول څخه وروسته به رسول الله صلی الله عليه وسلم د عبدالله بن ام مکتوم خاص اکرام او عزت کول او داسې به يې ويل:(مرحبا بمن عاتبني فيه ربي). سترې د نشي (هرکله دې راشي) هغه څوک چې د هغه په وجه زه الله تعالی ملامت کړم او هغه ړوند شخصيت دوه ځله رسول الله صلی الله عليه وسلم په مدينه منوره کې سرپرست وټاکلو او خلکو ته به يې په جماعت سره لمونځ ورکولو.(۹)
نو رسول الله صلی الله عليه وسلم به معيوبينو، معذورينو او ضعيفانو خاص خيال ساتلو او هغوی ته به قدر ورکولو.
رسول الله صلی الله عليه وسلم په ډيرو مواردو کې د معيوبينو او معذورينو مرتبه او فضيلت قولاً او عملاً بيان کړی دی.
حضرت عمرو بن الجموح رضي الله عنه چې په يوه پښه شديد ګوډ ؤ او نبي عليه السلام ورته وفرمايل چې ته معذور يې او جهاد ته مه ځه، خو هغه ډير اصرار کولو او د أُحد په غزوه کې يې برخه واخيسته او د أحد په غزوه کې شهيد شو .د هغه په هکله نبي عليه السلام بني سلمه قبيلې ته وفرمايل:«بَلْ سَيِّدُكُمُ الْأَبْيَضُ الْجَعْدُ عَمْرُو بْنُ الْجَمُوحِ».(۱۰)
ژباړه: بلکې ستاسې مشر سپين(سخي) او د ګونجو ويښتانو والا عمرو بن الجموح دی.

---

۷ - صحيح البخاري (۶/ ۸)

۸ -عبس:(۱-۴)

۹ - روح المعاني (۳۰/ ۳۹)

۱۰ - حلية الأولياء وطبقات الأصفياء (۷/ ۳۱۷)

په یو بل روایت کې راځي.عَنْ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّهُ حَضَرَ ذَلِكَ قَالَ أَتَى عَمْرُو بْنُ الْجَمُوحِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَرَأَيْتَ إِنْ قَاتَلْتُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ حَتَّى أُقْتَلَ أَمْشِي بِرِجْلِي هَذِهِ صَحِيحَةً فِي الْجَنَّةِ وَكَانَتْ رِجْلُهُ عَرْجَاءَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ فَقُتِلُوا يَوْمَ أُحُدٍ هُوَ وَابْنُ أَخِيهِ وَمَوْلًى لَهُمْ فَمَرَّ عَلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ:« كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْكَ تَمْشِي بِرِجْلِكَ هَذِهِ صَحِيحَةً فِي الْجَنَّةِ».(١١)

ژباړه: د حضرت ابو قتاده رضي الله عنه څخه روایت دی، بیشکه دی حاضر ؤ په هغه وخت کې، حضرت قتاده رضي الله عنه وایې چې عمرو بن الجموح رضي الله عنه نبي علیه السلام ته راغی او ورته یې داسې عرض وکړ: ای د الله رسوله! ما خبر کړه په دې چې که زه چیرې د الله په لاره کې جګړه وکړم آن تر دې چې زه شهید شم آیا زه به په دې پښه په جنت کې تګ وکړم په داسې حال کې چې دا به روغه وي؟ او د هغه پښه ګوډه وه .

نبي علیه السلام وفرمایل: هو! بیا دوی شهیدان شول د أحد په غزوه کې عمرو بن الجموح او دهغه وراره او د هغوی یو غلام، نو نبي علیه السلام په حضرت عمروبن الجموح رضي الله عنه باندې تیر شو (په داسې حال کې چې هغه شهید شوی ؤ) نو نبي علیه السلام ورته وفرمایل: لکه چې زه تا وینم، چې ته روان یې په په جنت کې په دې پښه باندې په داسې حال کې چې دا پښه ستا روغه ده.

الله جل جلاله فرمايي چې زه د هغه معیوب ، معذور لپاره چې په خپله معیوبی او معذورتیا صبر وکړي د جنت څخه پرته په بل اجر نه قانع کیږم. په حدیث شریف کې راځي. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَرْفَعُهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَقُولُ اللَّهُ « مَنْ أَذْهَبْتُ حَبِيبَتَيْهِ فَصَبَرَ وَاحْتَسَبَ لَمْ أَرْضَ لَهُ ثَوَابًا دُونَ الجَنَّةِ».(١٢)

ژباړه: حضرت ابو هریره رضي الله عنه په مرفوع حدیث کې فرمايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وایې چې الله تعالی فرمایلي دي : له چا څخه چې واخلم دواړه محبوبې (سترګې) او بیا صبر وکړي او داجر امید وساتي، نو زه به راضي نشم دده لپاره په بل ثواب علاوه د جنت څخه.

په یو بل قدسي حدیث شریف کې راځي چې الله تعال فرمایلي دي د چا څخه چې ددواړو سترګو نظر واخلم د هغې عوض جنت دی. عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:« إِنَّ اللَّهَ قَالَ: إِذَا ابْتَلَيْتُ عَبْدِي بِحَبِيبَتَيْهِ فَصَبَرَ، عَوَّضْتُهُ مِنْهُمَا الجَنَّةَ ».(١٣)

ژباړه: دحضرت انس بن مالک رضي الله څخه روایت دی ، هغه وایې چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل چې وه ویل : الله تعالی فرمایي: کله چې زه خپل بنده د هغه په دوو محبوبو (سترګو) وازمایم او هغه صبر وکړي، نو د هغې بدله به جنت ورکړم.
دا حدیث د معیوب مؤمن لپاره ستر زیری دی.
د هغه زنانه فضیلت چې هغه به بېهوشه کیدله نبي علیه السلام ورته وفرمایل، که چیرې ته صبر وکړې ، نو ستا لپاره جنت دی.
عن عَطَاءِ بنِ أَبِي رَبَاحٍ، قَالَ: قَالَ لِي ابْنُ عَبَّاسٍ: أَلاَ أُرِيكَ امْرَأَةً مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ؟ قُلْتُ: بَلَى، قَالَ: هَذِهِ الْمَرْأَةُ السَّوْدَاءُ، أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: إِنِّي أُصْرَعُ وَإِنِّي أَتَكَشَّفُ، فَادْعُ اللهَ لِي، قَالَ: «إِنْ شِئْتِ صَبَرْتِ وَلَكِ الْجَنَّةُ، وَإِنْ شِئْتِ دَعَوْتُ اللهَ أَنْ يُعَافِيَكِ» قَالَتْ: أَصْبِرُ، قَالَتْ: فَإِنِّي أَتَكَشَّفُ فَادْعُ اللهَ أَنْ لَا أَتَكَشَّفَ فَدَعَا لَهَا».وفي رواية البخاري: عن عَطَاء: «أَنَّهُ رَأَى أُمَّ زُفَرَ تِلْكَ امْرَأَةً طَوِيلَةً سَوْدَاءَ، عَلَى سِتْرِ الكَعْبَةِ».(١٤)

---

١١ - مسند أحمد (٣٧/ ٢٤٧)، معرفة الصحابة لأبي نعيم (٤/ ١٩٨٤)

١٢ - سنن الترمذي ت شاكر (٤/ ٦٠٣)

١٣ صحيح البخاري (٧/ ١١٦)

١٤ - صحيح مسلم (٤/ ١٩٩٤)، صحيح البخاري (٧/ ١١٦)

ژباړه: د عطاء بن ابي رباح رحمه الله څخه روايت دی ، هغه وايې چې ماته عبدالله بن عباس –خپل استاد۔ وويل: آيا زه تاته جنتي ښځه ونه ښايم ؟ ماورته وويل: هو! راته وه يې ښايه . راته يې وويل: دغه توره ښځه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغله او نبي عليه السلام ته يې وفرمايل: زه بيهوشه کيږم او زه برسيره کيږم يعني جامې راڅخه پورته کيږي او خلکو ته ښکاره کيږم. ما ته د الله تعالی څخه دعاء وغواړه ( چې ما روغه کړي) نبي عليه السلام ورته وفرمايل: که ستا خوښه وي چې ته صبر وکړې او ستا لپاره جنت دی او که ستا خوښه وي زه به د الله تعالی ته سوال وکړم چې تاته عافيت درکړي او ته روغه شی؟ هغه ښځې وويل: زه صبر کوم (په خپله مريضتيا ترڅو جنت مې په برخه شي) ، بيا يې وويل: زه بې پردې کيږم (د بيهوشی پر وخت) د الله تعالی څخه زما لپاره وغواړه چې زه بې پردې نشم د بيهوشی پر وخت . نو نبي عليه السلام ورته د الله تعالی څخه دعاء وکړه.

د بخاري په روايت کې راځي د حضرت عطاء بن ابي رباح رحمه الله څخه روايت دی چې حضرت عطاء بن ابي رباح همغه ښځه أُمَّ زُفَرَ رضي الله عنها وليده د کعبې شريفې د پردو سره چې توره او دنګه ښځه وه.

په اسلام کې د هغو معيوبينو او معذورينو خاص مقام دی ، چې د الله تعالی په لاره کې يې د بدن شرين اندامونه لکه سترګي، لاسونه، پښې، پوزه، غوږونه ، د غوږونو حواس له لاسه ورکړي دي. په يو روايت کې راځي.عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ:«لَمَّا أَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَتْلُ جَعْفَرٍ دَاخَلَهُ مِنْ ذَلِكَ، فَأَتَاهُ جِبْرِيلُ فَقَالَ: إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى جَعَلَ لِجَعْفَرٍ جَنَاحَيْنِ مُضَرَّجَيْنِ بِالدَّمِ يَطِيرُ بِهِمَا مَعَ الْمَلَائِكَةِ».(۱۵)

ژباړه: دحضرت براء بن عازب رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايې کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د حضرت جعفر بن ابي طالب د شهادت خبر راورسيد، نو رسول الله صلى الله دغه خبر ډير غمجن او متأثره کړ، بيا جبرائيل عليه السلام رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی او ورته يې وويل: بيشکه الله جل جلاله ګرځولي دي حضرت جعفر رضي الله عنه لره دوه وزرې چې په وينو رنګ دي او په هغو وزرو سره پرواز کوي د ملائکو سره .

مخکې له دې چې د حضرت جعفر بن ابي طالب رضي الله عنه دواړه لاسونه او پښې د مؤته په غزوه کې قطع کړل شي، الله تعالی رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ور وښودل چې جعفر رضی الله عنه دوه وزرونه لري او د ملائکو سره په جنت کې ګرځي، نو هغه ته په ژوند کې د (طَيَّار) لقب ورکړل شو. (۱۶)

په يو بل روايت کې راځي. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:«أُريتُ جعفرا ملكا يطير بجناحيه في الجنة».(۱۷)

ژباړه: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ماته وښودل شو (په خوب کې يا د معراج په شپه کې مخکې له هغې چې د حضرت جعفر رضی الله عنه څخه د مؤته په غزوه کې لاسونه او پښې پرې کړل شي) حضرت جعفر رضي الله عنه په شکل د ملائکې چې پرواز يې کولو په دواړو وزرو سره په جنت کې.

په يو بل روايت کې راځی.(أَنَّ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، كَانَ إِذَا سَلَّمَ عَلَى ابْنِ جَعْفَرٍ، قَالَ: «السَّلاَمُ عَلَيْكَ يَا ابْنَ ذِي الجَنَاحَيْنِ».(۱۸)

ژباړه: بيشکه عبدالله بن عمر رضي الله به چې کله په عبدالله بن جعفررضي الله عنه باندې سلام اچولو ، نو داسې سلام به يې ور باندې اچولو .سلام دې وي پر تا باندې ای د ددوو وزرو د څښتن زويه!

---

۱۵ - المستدرك على الصحيحين للحاكم. قال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ لَهُ طُرُقٌ، عَنِ الْبَرَاءِ. (۳/ ۴۲)

۱۶ - مرقاة المفاتيح (۱۸/ ۸)

۱۷ - صحيح ابن حبان - محققا (۱۵/ ۵۲۱)

۱۸ - صحيح البخاري (۵/ ۲۰)

رسول الله صلى الله علیه وسلم به د معیوبو او معذور خلکو لیدنې ته ورتللو چې دا د هغوی په فضیلت دلالت کوي.

په یو روایت کې راځي. عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، عَنْ أَبِيهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «انْطَلِقُوا بِنَا إِلَى بَنِي وَاقِفٍ، نَزُورُ الْبَصِيرَ - رَجُلٌ كَانَ مَكْفُوفَ الْبَصَرِ».[19]

ژباړه: محمد د خپل پلار حضرت جبیر بن مطعم رضي الله عنه څخه روایت کوي ، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: مونږ بوزئ بني واقف قبیلې ته ترڅو زیارت وکړو د هغه بینا شخص (په زړه بینا). چې هغه داسې یو سړی ؤ چې په سترګو ړوند ؤ.

سره ددې چې هغه سړی په دواړو سترګو ړوند ؤ ، خو نبي علیه السلام په غوره نوم باندې یاد کړ.[20]

په روایاتو کې راځي چې حضرت سعدبن ابن ابي وقاص رضي الله ګمان کولو چې مسلمانانو سره د زیاتو مرستو کولو او په جهاد کې د زیات شجاعت له امله دده مرتبه به هغو صحابه کرامو لوړه وي، چې هغوی کمزوري دي، نو نبي علیه السلام وفرمایل:
( هَلْ تُنْصَرُونَ وَتُرْزَقُونَ إِلَّا بِضُعَفَائِكُمْ).[21]
ژباړه: نصرت نه کیږي له تاسو سره په جهاد کې او رزق نه درکول کیږي تاسو ته ، مګر د ضعیفانو له برکته درکول کیږي.
ځکه دوی په ډیر اخلاص او خشوع سره تاسو ته دعاء کوي او دا چې ددوی دعاء له ریاکارۍ او دنیوي اغراضو څخه پاکه وي ، نو الله تعالی ددوی ددعاء په برکت تاسو ته په جهاد کې مرسته کوي او تاسې ته روزي درکوي.[22]
چې په دې حدیث کې د ضعیفانو، معیوبینو او معذورینو د مقام او مرتبې ذکر واضح پروت دی.

## د معیوبینو ، معذورینو او ضعیفانو خلکو سره په ورځني ژوند کې مرسته او همکاري کول.

دا چې په اسلام کې دبرترۍ او بهترۍ معیار یواځې تقوا تاکل شوی ده ،نو په کار ده چې مونږ د هرچا قدردانۍ وکړو او ورته په درنه سترګه وګورو ، چې په هغوی کې د زیاتې مرستې او همکارۍ مستحق خلک معیوبین، معذورین او ضعیفان دي.

داسلام مبارک دین مونږ ته ددې هدایت کوي چې د معیوبینو ، معذورینو او ضعیفانو سره مرسته وکړئ.

الله جل جلاله فرمایلي دي:(وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى ).[23]

ترجمه: او مرسته کوئ تاسې یو تر بله په نېک کار او تقوی (پرهېزګارۍ) کې .

نو پر مونږ لازم دي چې د معیوبینو ، معذورینو او ضعیفانو سره په ورځني ژوند کې مرسته وکړو او همکاري ورسره وکړو. که چیرې له سرکه تیریدل غواړي د لاسه یې ونیسو او له سرک څخه یې تیر کړو، که چیرې د خطر په لور روان وي ، نو مونږ ته په کار دي چې د خطر له ځایه یې وژغورو، که چیرې زمونږ مالي مرستې ته اړتیا ولري پرته له رټنې ورسره د خپل توان په اندازه ورسره مرسته او همکاري وکړو.

که چیرې ادرس ورڅخه ورک شوی وي ، نو زمونږ ایماني مسئولیت دی چې لار ورته ور وښایو . که چیرې په کوم ځای کې خلک په نوبت کې ولاړ وي ، باید حق د اولویت معیوبینو او معذورینو او ضعیفانو ته ورکړو . په دې اړه اسلام مونږ ته روښانه هدایات کړي دي.

[19] - مسند البزار (٨/ ٣٥٠) .وقال المنذرى: رواه البزار بإسناد جيد. الترغيب والترهيب (٣/ ٢٤٨)
[20] - شرح مشكل الآثار - الطحاوى (١٠/ ٢١٩)
[21] - صحيح البخاري ت (٧/ ٣٧٥)
[22] - شرح صحيح البخارى - لابن بطال (٥/ ٩٠)
[23] -المائدة: (٢)

د معیوبینو، معذورینو سره مرسته او همکاري داسلامي نظام او هر مسلمان مسئولیت دی او داسلام په ځلانده تاریخ کې اموي خلیفه ګانو او عباسي خلیفه ګانو په دې برخه د پام وړ خدمتونه کړي دي چې وروستني امتونه د هغوی په نقش قدم باندې روان دی.

**الف: د اموي خلافت په وخت کې د معیوبینو، معذورینو، ورکو کسانو او ضعیفانو سره مرسته او همکاري.**

اسلامي خلیفه ګانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاره حرکت وکړو او د نبي علیه السلام لارښوونو ته یې علمي جامه واچوله او د معیوبینو او معذورینو لپاره یې غوره خدمات وړاندې کړل. حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله خپلو والیانو ته داسې فرمان صادر کړ:(أن ارفعوا إليَّ كُلَّ أعمى في الديوان أو مُقعَد أو مَن به فالج أو مَن به زمانة تحول بينه وبين القيام إلى الصلاة. فرفعوا إليه، وأمر لكل كفيف بموظف يقوده ويرعاه ، وأمر لكل اثنين من الزمنى - من ذوي الاحتياجات - بخادمٍ يخدمه ويرعاه).(٢٤)

ژباړه: راولیږئ ماته لیست د ټول ړندو خلکو او په پښو د معذورو خلکو او هغو کسان چې هغوی فالج وهلي وي او یا ورته صعب العلاج مرض رسیدلی وي چې له امله یې په جماعت لمونځ نشي کولای، نو والیانو ورته د معیوبینو او معذورینو او مریضانو لیستونه ورولیږل او حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله امر وکړ چې د هر ړوند انسان لپاره دې یو کس مقرر شي چې په لاره یې بوزي او د هغه خدمت کوي. او دوه مزمن مرض لرونکو ، معیوبینو او معذورینو لپاره یې یو خادم مقرر کړ چې د هغوی خدمت به کوي او د هغوی خیال به ساتي.
همدارنګه خلیفه ولید بن عبدالملک رحمه الله د فقهاوو، ضعیفانو او فقیرانو لپاره د بیت المال څخه معاشونه مقرر کړل او په ضعیفانو او معیوبینو یې سوال کول بند کړل او ورته یې وویل:( لا تسألوا الناس) د خلکو څخه سوال مه کوئ او په دې طریقه یې هغوی له سوالګری څخه یې خلاص کړل. د ړندو کسانو او د جذام وهلو لپاره یې هم د بیت المال څخه معاش مقرر کړ او په پښو شل او په سترګو ړوند شخص لپاره یې یو یو خادم مقرر کړ، ترڅو د هغوی خدمت وکړي.(٢٥)

همدارنګه د لومړي ځل لپاره خلیفه ولید بن عبدالملک د معیوبینو، معذورینو او د مزمنو مرضونو مریضانو لپاره په (٨٨ هـ) کال کې خصوصي مؤسسه او شفاخانه تأسیس کړه چې په دغه شفاخانه کې به د معیوبینو او معذورینو او مزمنو مرضونو مریضانو علاج کیدلو او په دغه مؤسسه او شفاخانه کې یې ورزیده طبیبان ، خادمان مقرر کړل او ددوی لپاره یې ځانګړې معاشونه مقرر کړل او د معیوبینو او معذورینو لپاره یې هم میاشتنې معاشونه مقرر کړل.(٢٦)

**لله الحمد دافغانستان اسلامي امارت هم په دې برخه کې لوی خدمات ترسره کړي دي. معیوبین او معذورین ، د شهیدانو ورثه او سوالګر یې له سرکونو او کوڅو څخه راټول کړل، هغوی یې د شهداء او معلولینو په وزارت کې ثبت کړل او ورته یې میاشتنې معاشونه مقرر کړل او دسوالګری څخه یې را وګرځول. او پرته له میاشتنې معاش څخه نورې انساني او د همدردۍ مرستې ورسره د وزارت له خوا کیږي.**

لکه چې مخکې مو وویل رسول الله صلی الله علیه وسلم به د ضعیفانو او معیوبینو د حال خاص خیال ساتلو. په یو حدیث شریف کې راځي.عَنْ أَنَسٍ أَنَّ امْرَأَةً كَانَ فِي عَقْلِهَا شَىْءٌ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ لِي إِلَيْكَ حَاجَةً فَقَالَ « يَا أُمَّ فُلاَنٍ انْظُرِى أَىَّ السِّكَكِ شِئْتِ حَتَّى أَقْضِىَ لَكِ حَاجَتَكِ ». فَخَلاَ مَعَهَا فِي بَعْضِ الطُّرُقِ حَتَّى فَرَغَتْ مِنْ حَاجَتِهَا.(٢٧)

---

٢٤ - نبي الرحمة (ص: ٣١٨)، مختصر تاريخ دمشق (ص: ٢٥٨٢)

٢٥- البداية والنهاية (٩/ ١٦٤)، الدولة الأموية عوامل الإزدهار وتداعيات الإنهيار (٣/ ٨٩)

٢٦ - نبي الرحمة (ص: ٣١٩)

٢٧ - صحيح مسلم (٧/ ٧٩)

ژباړه: د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې يوه ښځه وه چې عقلي مشکل يې درلود، وه ويل ای دالله رسوله! زما له تاسره کار دی، نبي عليه السلام وفرمايل: ای د فلاني مورې! وګوره هره يوه کوڅه چې ستا خوښه وي(زه به درسره لاړشم) ترڅو ستا حاجت پوره کړم. راوي وايې نو نبي عليه السلام ورسره يواځې شو د لارې په يوه برخه کې تر هغې ورسره ولاړ ؤ ترڅو چې د هغې له حاجت څخه اوزګار شو.

د معيوبينو، معذورينو او ضعيفانو سره په ورځني ژوند کې مرسته او همکاري کول صدقه ده . په يو حديث شريف کې راځي.

قَالَ أَبُو ذَرٍّ: «عَلَى كُلِّ نَفْسٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ طَلَعَتْ فِيهِ الشَّمْسُ صَدَقَةٌ مِنْهُ عَلَى نَفْسِهِ. قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مِنْ أَيْنَ أَتَصَدَّقُ وَلَيْسَ لَنَا أَمْوَالٌ؟ قَالَ: «لِأَنَّ مِنْ أَبْوَابِ الصَّدَقَةِ التَّكْبِيرَ، وَسُبْحَانَ اللَّهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَسْتَغْفِرُ اللَّهَ، وَتَأْمُرُ بِالْمَعْرُوفِ، وَتَنْهَى عَنِ الْمُنْكَرِ، وَتَعْزِلُ الشَّوْكَةَ عَنْ طَرِيقِ النَّاسِ وَالْعَظْمَ وَالْحَجَرَ، وَتَهْدِي الْأَعْمَى، وَتُسْمِعُ الْأَصَمَّ وَالْأَبْكَمَ حَتَّى يَفْقَهَ، وَتُدِلُّ الْمُسْتَدِلَّ عَلَى حَاجَةٍ لَهُ قَدْ عَلِمْتَ مَكَانَهَا، وَتَسْعَى بِشِدَّةِ سَاقَيْكَ إِلَى اللَّهْفَانِ الْمُسْتَغِيثِ، وَتَرْفَعُ بِشِدَّةِ ذِرَاعَيْكَ مَعَ الضَّعِيفِ ».(۲۸)

ژباړه: حضرت ابوذر رضي الله عنه وايي: په هر نفس باندې په هره ورځ کې چې لمر په کې راخيژي صدقه په خپل نفس باندې. ابوذر رضي الله عنه وايي چې ماوويل: ای د الله رسوله!د کوم ځای نه به صدقه ورکړو حال داچې مال نلرو؟ نبي عليه السلام وفرمايل: د صدقې له جملې څخه الله اکبر ويل دی. سبحان الله ويل دی او لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ ويل دي او وَأَسْتَغْفِرُ اللَّهَ ويل دی او داچې ته امر په نيکی وکړې او منع له بدی وکړې او لرې کړې غنه د خلکو له لارې څخه او لرې کړې هډوکی او کانی(له لارې څخه) او لاره وښايې ړوند شخص ته او آواز واوروې کوڼ شخص ته او ګونګي شخص ته ترڅو هغه پوهه شي او دا هم صدقه ده چې ته وښايې حاجت مند ته د هغه حاجت چې تاته يې ځای معلوم وي او په خپلو پنډيو کوښښ وکړې هغه حاجت مند ته چې د مرستې غوښتونکی وي او دا هم صدقه ده چې ته راپورته کړې متې د ضعيف شخص د مرستې لپاره.

په يو بل حديث شريف کې راځي.عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ العَمَلِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: «إِيمَانٌ بِاللَّهِ، وَجِهَادٌ فِي سَبِيلِهِ»، قُلْتُ: فَأَيُّ الرِّقَابِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: «أَعْلاَهَا ثَمَنًا، وَأَنْفَسُهَا عِنْدَ أَهْلِهَا»، قُلْتُ: فَإِنْ لَمْ أَفْعَلْ؟ قَالَ: «تُعِينُ ضَايِعًا، أَوْ تَصْنَعُ لِأَخْرَقَ ».(۲۹)

ژباړه: د حضرت ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې کوم يو عمل بهتره دی؟ نبي عليه الســلام راته وفرمايل: په الله تعال ايمان درلودل او دهغه په لاره کې جهاد کول . بيا مې ورڅخه پوښــتنه وکړه چې دکوم مريي (غلام) آزادول غوره دي؟ نبي عليه السلام راته وفرمايل: چې قيمت يې زيات وي او ډير خوښ وي خپل مالک ته. بيامې وويل: که چېرې زه دا کار ونکړم؟ نو نبي عليه السلام راته وفرمايل: نو بيا مرسته وکړه د ورک شوي سره او يا جوړ کړه (کار) د ناپوهه او ضعيفه لپاره.

په حديث شريف کې د هغه چا په باره کې سخت وعيد راغلی دی چې څوک ړوند انسان د سمې لارې څخه بدل لورې ته سوق کړي. عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَعَنَ اللَّهُ مَنْ كَمَّهَ أَعْمَى عَنِ السَّبِيلِ».(۳۰)
ژباړه: الله تعالی لعنت وايې په هغه چا چې څوک چپ کړي ړوند انسان د سمې لارې څخه.

---

۲۸ - مسند أحمد مخرجا (۳۵/ ۳۸۳)، صحيح ابن حبان - محققا (۸/ ۱۷۱)

۲۹ - صحيح البخاري (۳/ ۱٤٤)

۳۰ - مسند أحمد مخرجا (۵/ ۸۳)، الأدب المفرد للبخاري مخرجا (ص: ۳۰۷)

د ضعیفانو حاجت پوره کول د الله تعالی په لاره کې د مجاهد په اندازه اجر لري. په حدیث شریف کې راځي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:« السَّاعِي عَلَى الْأَرْمَلَةِ وَالْمِسْكِينِ كَالْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ الْقَائِمِ اللَّيْلَ الصَّائِمِ النَّهَارَ». (۳۱)

ژباړه: کوښښ کوونکی لپاره د حاجت پوره کولو د کونډې او مسکین د الله تعالی د لارې د مجاهد په شان دی او د هغه چا په شان دی په اجر کې چې دشپې قیام اللیل کوي او دورځې روژه نیسي .

همدا راز په اسلام کې معیوب او معذور ته ناوړه خطاب کول جواز نلري او اسلام د معیوبینو او معذورینو او ضعیفانو ډیر قدر کړی دی او حتی چې زمونږ کامیابي او د رزق پراخي یې د ضعیفانو او فقیرانو په دعاء پورې تړلی ده. لکه چې په حدیث شریف کې راځی. ( هَلْ تُنْصَرُونَ وَتُرْزَقُونَ إِلَّا بِضُعَفَائِكُمْ). (۳۲)

ژباړه: نصرت نه کیږي له تاسو سره په جهاد کې او رزق نه درکول کیږي تاسو ته ، مگر د ضعیفانو له برکته. که له یوې خوا د معیوبینو، معذورینو او ضعیفانو سره هر اړخیزه مرسته او همکاري کول په کار دي ، له بل پلوه د معیوبینو او معذورینو رټل، ناوړه القاب ورته استعمالول د اسلام مبارک دین حرام کړي دي. لکه هغه ته د مسخرې په توگه د گوډ ، یا شل یا ړوند خطاب کول.

الله تعالی یو بل ته د ناوړه القابو د استعمال څخه منع کړې ده او فرمایلي یې دي:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَومٌ مِّن قَوْمٍ عَسَى أَن يَكُونُوا خَيْراً مِّنْهُمْ وَلَا نِسَاء مِّن نِّسَاء عَسَى أَن يَكُنَّ خَيْراً مِّنْهُنَّ وَلَا تَلْمِزُوا أَنفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الاِسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ وَمَن لَّمْ يَتُبْ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ). (۳۳)

د جاهلیت په زمانه کې او په اورپایې نړۍ کې به خلکو یو بل پورې ټوکې ټکالې او مسخرې کولې او ناوړه القاب به یې ورته استعمالول خصوصاً معیوبینو او معذورینو ته به یې د بدبختانو خطاب کولو او هغوی به یې حقیر گڼل او ورته به یې ویل چې تاسو یې مستحق یاست ځکه په سترگو ړوند شوي یاست یا په پښه گوډ شوي یاست.نبي علیه السلام ددې کار څخه کلکه منع وکړه او وه یې فرمایل:« الْكِبْرُ بَطَرُ الْحَقِّ وَغَمْطُ النَّاسِ ». (۳٤)

ژباړه: کبر ردول د حق دي او حقیر گڼل د خلکو دي.

په یو بل حدیث شریف کې یې وفرمایل: «لَا تُظْهِرِ الشَّمَاتَةَ لِأَخِيكَ فَيَرْحَمَهُ اللَّهُ وَيَبْتَلِيكَ». (۳۵)

ژباړه: مه ښکاره کوه خوښي او خوشحالي د خپل ورور په بد حالت باندې ، کیدای شي چې الله تعالی په هغه رحم وکړي او بدحالت ورڅخه لرې کړي او تا ورباندې مبتلاء کړي.

---

**اقول قولي هذا، استغفر الله لي ولكم ولسائر المسلمين**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته**

۳۱ - صحیح البخاري ت (۱۳/ ۳۸۵)

۳۲ - صحیح البخاري ت (۷/ ۳۷۵)

۳۳ - الحجرات: (۱۱)

۳٤ - صحیح مسلم (۱/ ٦٥)

۳۵ - سنن الترمذي ت شاكر (٤/ ٦٦۲)